هارون خیل شعشعی


۰۲ جون ۲۰۱۱

## امريکايي چونيۍاواستعماري نخشې

## اوومه برخه

**له امريکايي چونييو او نورواستعماري نخشوڅخه د ژغورني لار**

زموږ په جنګ ځپلي او غملړلي هیواد ( افغانستان) کي د تېرو لسوکالو ترخو تجربو، په ډاګه وښوول چي د سولي، امنیت، ازادی، ډیموکراسی، قانونیت، بشري حقوقو او پرمختګ په نامه راغلي پوځونه او د هغو لاس پر نامه مزدوران، ټوله په خپلو جبري اتوکي ډبل دي . داسي ورځ نسته، چي د دې بدمرغه هیواد په یوه کلي یا اولسوالی کي د برغلګرو فرعونانو له خوا دکوچنیانو، ښځو او سپین ږرو په ګډون لسګونه بې ګونا افغانان په وینو او خاورو ونه لړل سي . نن د هیلمند په نوزاد، پرون د نورستان په دوآب، آ بله ورځ په کونړو او تر هغه مخکي په نوروکلو او بانډوکي (چي د ټولو یادونه یې ډېر ځای، وخت او حوصله غواړي) زموږ تنکي ګلان، زموږ خوندي مندي، زموږ  ورونه او پلرونه، د اختري د پسو په شان، په وینو کرنګ سوه؛ او دا زړه چاودونکی لړۍ تر ننه په خورا دربي او درزي روانه ده . له دې روښانه حقیقته هم هیڅوک سترګي نسي پټولای، چي پردو لښکرو او مزدور رژیم له تېرو لسو کالو راهیسي دازادی، اولسواکی، بشري حقوقو، قانونیت او عدالت  پر ځای د جګړو، نا امنییو، دوښمنییو، ظلمو، خیانتو، غلاوو او فساد توخمونه وکرل .

تېرو لسو کالو له ورایه ثابته کړه، چي د افغاني مسألو یاني جګړې، زورواکی ، وزګارتیا،چور او چپاو، فساد او نورو ناخوالو حلول د پردو پوځو اود هغو دکښېنولي حکومت تر وس ډېره لوړه خبره ده . واقعیت هم دا دئ، چي سوله او امنیت راوستل؛ د خلګو نسونه مړول؛ د زورواکو او خپلسرو حاکمانو د ډول ډول ناروا وو مخه نیول؛ په سیاسي، اجتماعي، فرهنګي او اقتصادي نظام کي د فساد او بې عدالتیو ختمول او خلګو ته د ارام او سوکاله ژوند په هیله د بېلابېلو اسانتیاوو برابرول، اصلاً د استعماري ځواکو او د هغو د مزدورو جنګي او مافیایي ډلو ټپلو کار نه دئ . هیڅوک په نړۍ کي داسي هیواد نسي په ګوته کولای چي قاتلانو، تباهکارو، چپاولګرو، زورواکو، قاچاقبرو، پلورل سوو عناصرو اوپه فساد ککړو واکمنانو دي، خپلو ببوزلو او مظلومو خلګو ته هوسا او سوکاله

ژوند جوړکړی یې؛ ځکه جنګي او مافیایي ډلي ټپلي په جنګ، وژنو، اړودوړ، زورزیاتي، فساد او نورو انساني ضد سیاستوکي درني ګټي لري . که همدا اوس په افغانستان کي جنګ، وژني او سیاسي باد وباران نه یې امریکا، غربي دولتونه، روسیه، ایران، پاکستان، هند، عربي هیوادونه او داسي نور مغرض سازمانونه او دولتونه هیڅکله دي او هغه جنګي ډلي، مافیایي سازمانو او جاسوسانوته، په چاربڼاخو ډالرونه، نه ورکیي . یو پلا د رباني، سیاف، دوستم، فهیم، خلیلي، محقق، عبدالله، قانوني، نور او داسي نورو پرتمنیو مانیو، ډول ډول شتمنیو، ناروا معاملو، نوکرانو او چاکرانو ته وګورئ؛ او بیاپه خپله قضاوت وکئ، چي د افغانانو د وینو او اوښکو دابي رحمه سوداګران، په تېرو لسو کالو کي په څه کاروبار بوخت وه؛ او تر اوسه څه کیي ؟!

له همدي سَوَبه ، دا وران او ټوک ټوک افغانستان، ژور او اساسي حل غواړي . داسي حل، چي پر ټولو ربړېدلو افغانانو سربېره، زموږګاونډیو هیوادو او نړۍ والي ټولني ته هم د منلو وړ یي . زموږ د هیواد د دو دېرش کلن ناورین معقول او منطقي حل، زما له نظره دوه لوی او اساسي اړخونه لري :

اول دا چي د پردو مزدور، فاسد او بي کفایته حکومت باید ژر تر ژره خپل ځای د ناپېیلو، خپلواکو، زړه سواندو او پوهو افغانانو یوه مؤقت ملي حکومت ته وسپاري . د دغه راز ملي حکومت د ښې پېژندني د پاره دي درانه لوستونکي د دي عاجز هغه پراخه او مفصله لیکنه وګوري، چي څه کم دری کاله مخکي د هیواد د ځینو ملي ویبپاڼو لکه « بېنوا»، « لر او بر» او ځینو نورو له لاري خپره سوه .

http://www.larawbar.com/detail.php?id=٥٧١٠

دوهم دا چي ټول ایتلافي پوځونه دي د یوه معقول او عملي زماني جدول په وړاندي کولو سره، د افغانانو سپېڅلي او خپلواکه خاوره پرېږدي . دا پوځونه له تېرو لسو کالو راهیسي، د أسامه بن لادن ، القاعدي او طالب مشرانو د وژلو یا ورکولو په پلمه دي خاوري ته راغلي دي؛ خو عملاً ګورو، چي په خپلسرو هوایي بمباریو، ورانوونکو مځکنیو عملیاتو، بېرحمانه ځورَونو او ناوړو کړوورو سره د افغانستان د مظلومو خلګو، په تېره بیا سرلوړو او خپلواکو پښتنو په وړاندي ناروا، ظالمانه او بي مفهومه جګړه کیي؛ او هره ورځ زموږ مظلوم اولس ته د سر او مال ستر او درانه تاوانونه اړوي . له دي امله باید زموږ له بي ګونا خلګو سره د نابللو یرغلګرو داوحشیانه جګړه ژر تر ژره او تل تر تله ودرېږي .

د سي . آی . اې . مشر - لیون پانیتا څه موده مخکي په خپله اعتراف وکړ، چي په افغانستان کي د القاعدي د غړو شمېر تر سلو لږ دئ . بې له شکه، د أسامه بن لادن وژنه په خپله هم د دغه سازمان پر سیاسي، سازماني او تبلیغاتي ظرفیت بل کلک ګوزار ؤ . پاته سوه طالبان، اسلامي حزب، حقاني ډله او نوري وسله والي ډلي، چي د هغو وژل او ورکول نه عملي کار دئ، نه معقول . عملي په دي نه دئ، چي دا خلګ ټول د دي وطن اصلي اوسېدونکي دي؛ په خلګوکي ژوري ریښي لري؛ او له تېرو لسو کالو راهیسي یي د امریکایي او ایتلافي قواوو له بمباریو او بریدو سره سره، خپل موجودیت او هویت خوندي ساتلئ دئ . معقول په دي نه دئ، چي دي خلګو د سیپتمبر دیوولسمي په ګډون، په نړیٔ وال تروریزم کي هیڅکله لاس نه لاره او هیڅ وخت یي دا نه دي غوښتي، چي د نړیٔ وال تروریزم تر شا ودرېږي . بن لادن، القاعده او داسي نور هم په واقعیت کي د امریکا، عربو او پاکستاني آی . ایس . آی له خوا په غاړه کي وړ واچول سوه . امریکایان نسي کولای په افغانستان کي د افراطي ډلو ټپلو د ځای پر ځای کېدو مسوولیت د افغانانو پر اوږو وړ واچوي . دا خبره لمر غوندي روښانه ده، چي تروریزم، مذهبي افراطیت، نژادپالني او داسي نورو بدو بلاووهیڅکله په افغانستان کي ځای نه لاره .

که د افغاني ټولنې واقعیتونه داسي دي، بیا نو دا بی سر وپایه پوځونه، دا ټانکونه او جهازونه، داوژني او ورانی د څه دپاره؟!

د ایتلافي قواوو ظالمانه بمباریيو او ړندو عملیاتو خونه یوازي د تروریزم، افراطیت او تاوتریخوالي په ورکولو کي هیڅ مرسته و نکړه، بلکي د وسله والو مخالفینو مقاومت یې لا نور هم غښتلی او پیاوړی کړ. که ایتلافي فرعونانو او د پخواني شمالي اتحاد ځینو پښتون دوښمنه مزدورانو د القاعدې او طالبانو په نامه، د خپلواکو، سرلوړو او غیرتي پښتنوونابودی ته ملاوي تړلي دي، په زر کاله به داکرغیږن خوبونه ریشتیا نه کړي .

که امریکایان او په کابل کي د هغو منفور مزدوران تصورکیي، چي د بهرني اشغال او ګوډاګي رژیم وسله وال او نا وسله وال مخالفین به، له هغه کمیسیون سره خبرو اترو او روغي جوړي ته غاړه کښېږدي، چي برهان الدین رباني یي مشري کیي، ډېر تېروتلي او خطاوتلي دي . ځکه د روغي جوړي له پاره نېکو او خیرغوښتونکو منځګړو ته اړتیا سته . منځګړیتوب یا وساطت هم له حقوقي پلوه او هم زموږ د اولسي دودو او روایتو له مخي، د هغو کسانو کار دئ، چي پر نېک او مصلحانه شهرت سربېره، د ښکېلو اړخو تر منځ شخړه یا دعوه کي، هیڅ ډول لاس یا ګټي و نه لري؛ خو موږ ټول د سر په سترګو ګورو،چي د کرزي د سولي په کمیسیون کي له څو بي واکو او کلېشه یي کسانو پرته، د افغانستان د زرګونو بي ګونا وګړو قاتلان، د کابل ښار دکنډواله کولو مسوولین او په پای کي د اوسني امریکایي اشغال تر ټولو خاین، بي رحمه او فاسد مزدوران، غړیتوب لري .

ایا د یوه ریښتیني ملي او ولسي حکومت لرل؛ او دا په وینو لړلي خاوره له هر ډول پردو عسکرو او پردو جنګیالیيو څخه پاکول، ناسمه یا ناوړه غوښتنه ده؟

ګومان نه کوم له جنګي ډلوټپلو، ځینو جاسوسانو او فاسدو واکمنانو پرته، څوک د افغانانو له دې انساني، اسلامي او افغاني غوښتني سره تضاد او مخالفت ولري . راسئ په لاندي کرښو کي د دې ستر انساني، اسلامي او افغاني ارمان پر ځینو عملي اړخو یو څو لنډي خبري وکو:

له نېکه مرغه، افغانستان له بېلابېلو قومو او ټبرو څخه په هیوادکي دننه او دباندي ډېر خپلواک، زړور، غښتلي، پوه او مُخلص ملي شخصیتونه لري . داسي ناپېیلي ملي شخصیتونه، چي ټول افغانان یي په یوه ږغ پر ایمان، افغانیت، خپلواکی، سرښندني، هوښیاری اواخلاص آمنا کولای سي .

داسي خپلواک، ناپېیلی او په هره مانا باکفایته مؤقت ملي او اولسي حکومت کولای سي، دوه ستر کارونه پر مخ بوزي :

یو دا چي له وسله والو ګوندو، ډلو او شخصیتو سره د ریښتینو، ښکاره او مخامخ خبرو له لاري د جنګ او ورانی مخه ونیسي .

بل داچي د ملي او اولسي کړنلارو په وړاندي کولو سره، د میلیونو جنګ ځپلو او ربړېدلو هیوادوالو بالفعل ملاتړ تر لاسه کړي .

د مؤقت ملي حکومت دا دوې ارزښتناکي بریاوي به ښېله شکه د همېشنی سولي او ملي روغي جوړي له بریالیتوب سره لویه مرسته وکي؛ د سولي او ترقی جبهه به ورځ په ورځ غښتلي او د جنګ او وینو تویولو جبهه به ورځ تر بلي تجرید اوکمزوری کړي .

د مؤقت ملي حکومت او وسله والو مخالفینو تر منځ ازادي خبري اتري او روغه جوړه به ډېر ژر دا امکانات برابر کړي، چي ټول نابللي پردي ( ایتلافي پوځونه او د مخالفینو تر څنګ ولاړ جهادیان) زموږ ورانه او غملړلي

خاوره پرېږدي . البته، تر هغه مهاله، چي افغانستان په بشپړه توګه افغانانو ته نه وي پرېښوول سوی، په دې وران او غملړلي ټاټوبي کي د سولي، امنيت او سوکالۍ تمه هم بې ځايه ده .
مؤقت ملي حکومت به تر يوې ټاکلي لنډ مهاله مودې وروسته، په هيواد کي عمومي انتخاباتو ته لار هواره کړي؛ او په دې توګه به د يوه ريښتني منتخب حکومت تر جوړېدو پوري، خپل ستر ملي او وطني رسالت بشپړکړي . د افغانستان د سمي اداري او پرمختګ تر ټولو ښه نُسخه هم همدا ملي حکومت دئ، چي کولای سي د دې ګډ تاريخي کور د ټولو ټبرو، ژبو، مذهبو، سيمو او خلګو پر حقوقو سربېره، د ګاونډيو هيوادو او نړۍ والي ټولني روا ګټي هم خوندي وساتي . ما ته خو په افغانستان کي تر دې بريالی ، غوره او اغېزمن سيستم نه ښکاري . ځکه موږ په تېرو دو دېرشو کالوکي په سترګو وليده، چي کيڼ او ښي ( چپ او راست) افراطيت مظلومو افغانانو ته بې تباهۍ او بدمرغی هيڅ ورنکړه؛ او نه يې ورکولای سوای؛ ځکه افراطيت په هره بڼه او هر شکل وارداتي ختِه لري؛ او زموږ د ټولني له عيني او ذهني واقعيتو سره هيڅ اړخ نه لګيي . همدا دليل دئ، چي زموږ د ټولني له سياسي، اجتماعي، فرهنګي او اقتصادي واقعيتو څخه پردي سيستمونه تل د خلګو له مخالفت او مقاومت سره مخامخ کيږي . « خير الامور اوسطها» تر ټولو غوره لار ده . د عدالت، برابرۍ، ازادۍ او بشري حقوقو د بشپړتيا دپاره مبارزه بايد تل زموږ په خلګو کي عيني او ذهني ملاتړ ولري . خلګ بايد په شعوري ډول، د داسي بدلونو د راوستلو په مقصد د مبارزې و ډګر ته را ووزي . وارداتي ايډيالوژۍ او تپل سوي سيستمونه د هيڅ هيواد له خلګو سره مرسته نسي کولای . بايد په کلکه يې مخه و نيول سي .
د ګردو افغانانو د خوښي وړ ملي حکومت به د سولي، تفاهم، وروروليٰ، دوستۍ او نړۍ والو معيارو په چوکاټ کي له ګاونډيو هيوادو، د سيمي له دولتو، متحدو ايالاتو، لوېديځو هيوادو او نوري نړۍ سره دوستانه اړيکي وساتي؛ د هغو له علمي، تخنيکي، اقتصادي او انساني مرستو به ګټه واخلي؛ او په خپله به هم د نړۍ والي ټولني د يوه فعال او ګټور غړي په توګه، خپلو ملي او بين المللي مسووليتو ته ټينګ پام وکي . امريکا، اوروپايي دولتونه او همسايه هيوادونه هم بايد افغانانو ته د خپل سياسي، اجتماعي، اقتصادي او فرهنګي سيستم د غوراوي حق ورکړي .
په نړۍ کي د مختلفو سياسي، اجتماعي، اقتصادي او کولتوري سيستمو سته والی د نړۍ والي سولي او امنيت د ټينګښت او بشري پرمختګ، له خورا مهمو اړتياوو څخه ګڼل کيږي . د بېلابېلو سياسي، اجتماعي او اقتصادي سيستمو لرونکودولتو تر منځ د سوله ييز ژوندانه زرين اصل نه يوازي د معاصرو بين المللي حقوقو درې مهم اصول لکه د زور يا زور د ګواښ مخنيوی؛ د دولتو د ملي واکمنی درناوی؛ او د دولتو په کورنيو چاروکي نه لاسوهنه، په ښه بڼه منعکسوي، بلکي د بېلابېلو دولتو تر منځ د دوستۍ او همکارۍ نوري برخي او اړخونه هم را نغاړي . د سوله ييز ګډ ژوند نړۍ وال اصل پر هغو سياستو د بطلان کرښه باسي، چي په مختلفو ټولنيزو سيستمو پوري تړلي دولتونه، د دوښمنۍ او تقابل لوري ته بيايي . بالعکس دا اصل له بېلابېلو دولتوڅخه د ژوندانه په ټولو برخو کي د زياتېدونکو همکارييو غوښتنه کيي( ټونکين ۸۰) .
البته، د سوله ييز ګډ ژوندانه ارزښتناک حقوقي اصل ته د پخواني شوروي دولت يا نورو سوسياليستي دولتو په ړنګېدو سره، هيڅ زيان نه دئ رسېدلئ . دا اصل د بشري ټولنی دګډ ژوندانه په ټولو پړاووکي د نړۍ والي سولي، امنيت، پرمختګ او همکارۍ دډمن او اغېزمن ضامن ګڼل کيږي . ځکه د نړۍ بېلابېل هيوادونه د سياسي، اجتماعي، اقتصادي او فرهنګي پرمختګ له پلوه، لوی توپيرونه لري . له دې کبله په نړۍ کي د بېلابېلو سياسي، اجتماعي، اقتصادي او فرهنګي سيستمو د اجباري ړنګولو او پيکه کولو په خاطر هلي ځلي، بېله شکه نړۍ واله

سوله، امنيت، بشري پرمختگونه او همکارئ له سترو کړاو او لانجو سره مخامخ کيي . بايد د هر هيواد مېشتو اولسو ته په پوره ازادئ حق ورکړل سي، چي له خپلو ملي ځانګړتياوو او اړتياوو سره سم ، د خپلو زړو نظامو او زړو سياسي، اجتماعي، اقتصادي او فرهنګي مؤسسو د اليشولو دپاره پرېکړه وکړي .

په افغانستان کي يو منلی ملي او ولسي دولت کولای سي د هيواد د مځکنئ بشپړتيا، سياسي خپلواکی او ملي واکمنی د ډاډمني دفاع دپاره د ملي ګټو او بين المللي موازينو په چوکاټ کي، د اړتيا پر مهال، د امريکا د متحدو ايالاتو په ګډون له هر بهرني هيواد سره د دفاعي او ستراتېژيکي همکارئ بېلابېل تړونونه لاسليک کړي . د عيني اړتياوو پر بنسټ لاسليک سوي ستراتېژيکي تړونونه به هيڅکله جګړو، نا ارامييو کړکېچو ته لمن و نه وهي؛ خو دا کار په بشپړ باور سره د اوسني مزدور حکومت تر صلاحيت او واک ډېر پورته دئ، چي د پردو د توپ او ټانک په زور، پر خلګو حکومت کيي . د داسي حکومت له خوا د ستراتېژيکو تړونو لاسليک، لا نورو جګړو، نورو وينو تويېدلو او نورو کړکېچو ته لار هواروي .

ګاونډي هيوادونه، د سيمي دولتونه او نړئ وال قدرتونه، په افغانستان کي متضادي ګټي لري . مزدور رژيمونه په سياسي، اقتصادي او ستراتېژيکي چاروکي د خپلواکی نه لرلو په وجه دا متضادي او متناقضي ګټي نسي پوخلا کولای . يوازي يو ريښتينی ملي حکومت کولای سي د ملي دريځ په غوره کولو سره د همسايه ګانواو نړئ والي ټولني مشروع ګټو ته د احترام په سترګه وګوري؛ او د نامشروع ګټو يي په کلکه مخه ونيسي.

يو ځل بيا تکراروم، چي په افغانستان کي لاسوهني، جګړې او نا ارامی ټول له بهرنييو لښکرو او ګوډاګي رژيم سره نه شلېدونکی اړېکی لري . که امريکايان ريښتيا هم له تروريزم او افراطيت سره د مبارزې په هيله افغانستان ته تللي دي، بايد د افغاني شخړو او لانجو د اساسي حل له پاره د هغو په اصلي علت او سَوَب پسي وګرځي . کله چي د بهرنييو لاسوهنو، جګړو، وينو تويېدلو او ورانکارييو اصلي علت له منځه ولاړ سي، بيا نو د هغو معلولونه ياني تروريزم، نا ارامی، زور زياتی، افراطيت، لوږه، بېکارئ، وروسته پاته والی او نوري ناخوالي په خپله له منځه ځي .

که امريکا په افغانستان او شاوخوا سيمه کي د خپلو سياسي، اقتصادي او ستراتېژيکو ګټو د تحقق دپاره نه ، بلکي په ريښتيا سره د سوله ييز، سوکاله او متمدن افغانستان دپاره راغلي يي، بيا نو تر هر څه مخکي بايد د اوسني مزدور رژيم له سياسي، عسکري او مالي ملاتړ څخه، چي په هيوادکي د سولي او امنيت تر ټولو لوی او اساسي خنډ دئ، لاس واخلي؛ او د يوې بين الافغاني جرګې له لاري د هيواد د مشرتابه چاري د افغانانو يوه ريښتيني مؤقت ملي حکومت ته وسپاري؛ او د هغه له لاربښوونو سره سم د وتلو پرستراتېژي غوَر وکي .

که امريکايان د جنايتکارو، ورانکارو، جاسوسانو او غلو داوسني بي کفايته حکومت پر ملاتړ ټينګار کيي، د دي خبري مانا دا ده، چي غواړي يو ځل بيا د چارو واګي وسله والو ډلو ټپلو ته پرېږدي؛ او په دې توګه نورو جګړو، وينو تويېدلو او افراطي جريانو ته لار هواره کړي . ځکه دا بي کاره او بي کفايته حکومت هيڅکله د وسله والو مخالفينو په وړاندي د مقابلې او مقاومت وس نه لري . که د مزدور رژيم ځيني عناصر د خدای، وجدان او افغانيت په نامه څه پېژني، نور بايد له دې شرمناک، خونړي او خاينانه واک څخه لاس واخلي؛ او يوه مؤقت ملي حکومت ته د واک په سپارلو کي مرسته وکړي .

په افغانستان کي د امريکايي عسکرو دايمي حضور زموږ د هيواد د سياسي خپلواکی او ملي واکمنی د محدودولو او زيانمن کولو په لارکي، ډېر خطرناک ګام دئ . له دې امله يي هيڅ خپلواک، سرلوړی او باغروره افغان ومنلو ته غاړه نه ايږدي . امريکايي ستراتېژيستان بايد د تاريخ په اوږدوکي د افغانانو له خپلواکی غوښتونکو

مبارزو او حماسو څخه، د عبرت درس واخلي؛ او پرېنږدي د زرګونو پوځيانو او ميلياردو ډالرو په ضايع کولو سره، له هغي نتيجي سره مخامخ سي، چي نوري يرغلګري امپراطورۍ ور سره مخامخ سوي دي . تاريخونه شاهدي ورکيي، چي د دې خپلواکي او سرلوړي هيواد په غرو او رغوکي د ډېرو فاتحانو پزي په خاورو لړل سوي دي؛ ځينو يې پښي او لاسونه، ځينو يې سرونه او ځينو يې درست لښکرونه بايللي دي .

البته، هيڅوک په افغانستان او شاوخوا سيمه کي د لويو قدرتو، په تېره بيا متحدو ايالاتو له اوږد مهاله ګټو څخه سترګي نه پټيي؛ خو دا ګټي بايد د افغانانو، همسايه دولتو او نړۍ والو له قانوني او انساني ګټو سره بشپړ سمون ولري . يو خپلواک، خدمتګار، سپيڅلی او کارپوه ملي دولت کولای سي په خپل هيوادکي د امريکا د متحدو ايالاتو په ګډون د همسايه ګانو او نورو هيوادو مشروع ګټي خوندي وساتي .

که امريکا د تعقل او منطق پر ځای د زور او ګواښ لار تينګه کړي، بيا نو په دې حقيقت بايد ښه سر خلاص کړي، چي افغانانو ته، په خپل پلرني هيوادکي د پردو دايمي لښکرکوټونه د دايمي اشغال په مانا دي . د دايمي اشغال په عواقبو ياني دايمي جګړو او دايمي تراژيديو هم هر څوک ښه پوهېږي . د امريکا سياسي او پوځي ستراتېژيستان بايد يو پلا بيا خپل تېر لس کلن ريکارډ له سره وګوري . دا خونړی ريکارډ له ورايه ښيي، چي له پردو لښکرو څخه د افغانانو کرکه او نفرت د هري ورځي په تېرېدو سره ډېرېږي .

که يو نيم لک منظم پوځ او لسګونو زرو استخباراتي، امنيتي او اکملاتي قواوو په تېرو لسوکالوکي د خلګو خپلواکی بخښوونکي ارادې ماتي نکړای سوې ، تر دې وروسته هم هيڅ دليل نسته، چي د عسکري چونيو په ښه به، د افغانانو د پر شا نه تلونکي پاڅون مخه ونيسي . بايد له دې روښانه حقيقت څخه سترګي پټي نه کو، چي د امريکايي عسکرو همېشنی حضور، د افغان ناورين د حل لار نه ده . ګرده خپلواک، زړور او سرلوړي افغانان د وطن، ملي نواميسو او پردو يرغلګرو پر خلاف مبارزه کي يو لاس او يوه خوله دي .

په پای کي د دې مهمي خبري يادونه ضروري ګڼم، چي د جنګ او تباهی لړيونی لمبي به هرومرو زموږ د اسکېرلو هيوادوالو ويرجنه او ويجاړه کوډګاله نوره هم لولپه کړي ؛ خو له هغو سره به امريکايي لښکرکوټونه او د هغو مزدور رژيم هم هيڅکله پر ارامه پاته نسي .

### انګرېزي « بېس » ته په پښتو او دري کي څه و وايو؟

اډه، پوځي اډه، لشکرګاه/ لښکرګاه، لښکرکوټ، پايګاه، چونۍ؟

د لغتپوهني او ايتيمولوژۍ په رڼا کي څو لنډي خبري

څو ورځي مخکي د هيواد خوږ ژبي، مبتکر او متفکر ليکوال - ښاغلي ډيپلوم انجنير خليل الله معروفي، په «افغانستان آزاد - آزاد افغانستان » ويبپاڼه کي، د امريکايي چونيو په اړه، د يوې په زړه پوري مقالي په ترڅ کي، د معقولو دلايلو په وړاندي کولو سره، د دري ژبو ليکوالو او ژورناليستانو پام د ايراني« پايګاه » پر ځای د خپلي ژبي د يوې خوږې تاريخي کليمې ( لشکرګاه) کارولو او رواجولو ته اړولئ ؤ، چي ماته يې هم په ريښتيا سره ډېرخوند را کړ . د « لشکرګاه » او « پايګاه » د کليمو پر څېړنه سربېره د امريکايي چونيو په ردولو او غندنه کي، د ښاغلي معروفي علمي مقاله، دلته کتلای سئ :

http://afgazad.com/Siasi/٠٤٢٥١١-KM-Ejaaza-ye-Lashkargaah-e-Begaana-Botlaan-e-Afghaniyat%٥B٢%٥D.pdf

غواړم په دې لنډ بیان کې درنو لوستونکو ته د ایتیمولوژۍ او لېکسیکالوژۍ په رڼا کې د ښاغلي معروفي پر علمي استدلال، څو نور ټکي هم ور زیات کړم .

« اډه » یا « اډا» د ایتیمولوژۍ یا ریښه پېژندنې له نظره د هندي ژبې ټکی دئ، چې له اوږدو زمانو څخه په زیاترو هندي الاصله ژبواوپښتوکې، په پراخه توګه استعمالیږي ( پلاټ ۳۷) . په پښتوکې د موټروانـــــو اډه، د ټـــکیسیانو اډه، د ګاډییو اډه او داسې نور عبارتونه له پخوا څخه باب دي، چې په عمومي ډول د تم ځای/ تمځی، درېد ځـــای/ دریدځی، ایستګاه، توقفګاه او داسې نورو په مانا دي . دا ټکی پخوا په افغاني پښتوکې د عسکري قشلې، عسکري قطعې، عسکري قرارګـــاه یا ګارنـــــېـزیون او داسې نورو په مانا نه کارېدئ؛ خوپه کښته پښتنوکې داوردو ژبې د اغېـــزې له کبله فوجي اډه ، هوایي اډه، د پولیسو اډه او داسې نور عبارتونه، له پخوا څخه استعمالیږي .

« پوځ » کلیمه د عربي« فوج » مفغنه یا پښتو سوې بڼه ده، چې نن سبا په افغاني پښتوکې خورا ډېره کاریږي؛ او د پخوانییو مروجو کلیمو لکه لښکر، اوردو یا عسکري قوې ځای یې نیولئ دئ . لښکر، سپاه، عسکر، اوردو هغه کلیمې دي، چې له پېړییو پېړییو راهیسې زموږ په ژبه او ادب کې تابعیت او مقبولیت لري؛ او ځای یې باید د «پوځ» مفغنې کلیمې ته په بشپړه توګه ور نکړل سي . ځکه دا کار هیڅ منطق نه لري، چې خپلې زړې او اشنا کلیمې د پردیتوب په ګونا تر خاورو لاندې کو؛ او پر ځای یې نورې پردی، خو نا اشنا کلیمې ودروو. البته، د منل سوو عربي، پارسي او نورو پردوکلیمو تر څنګ د خپلې ژبې د نابابه او هېرو سوو کلیمو راواجول ډېر نېک او ګټور کار دئ . د مثال په ډول « سبب » داسې عربي ټکی دئ، چې د پښتو تر څنګ په دري، اوردو او نورو ژبوکې هم پراخ استعمال لري . دا اسانه، ساده او مروج ټکي د کندهار په پښتنې چاپېرکې افغاني رنګ اخیستی دئ؛ او له پېړییو پېړییو راهیسي د« سَوَب » په بڼه په عامو او خاصوکې دود دئ . د « سَوَب » تر څنګ، ډېرې نورې کلیمې هم سته، چې ګرده یې د پښتو ژبې د لغوي زېرمې ارزښتناکه برخه ګڼل کیږي؛ او په هیڅ بیه یې باید له لاسه و نباسو .

په خواشینۍ سره، نن سبا د ژبې د سوچه کولو بې خبره محتسبین د دې مفغنې کلیمې له کارولو مخ اړوي؛ او پر ځای یې د پښتو او عربي ژبې د یوه لغوړن ترکیب ( لامل) بېدریغه استعمال ته ملا تړلې ده، چې په حقیقت کې له دوو برخو یاني « له » او« عمل » څخه ترکیب سوی دئ . ځیني یې د جمعي په بڼه (لاملان) هم کاروي، چې تر مفرد حالت ډېر بې خونده او خندنی ښکاري . زما پوښتنه دا ده، که پېړۍ پېړۍ مخکې په ژبه کې د همدې مفهوم دپاره ساده، اسانه او مروجه کلیمه لرو، د بلې نا اشنا کلیمې د جوړولو اړتیا په څه کې ده؟! ماته خوپه دې کار کې له بې خبرۍ او خپلسرۍ پرته بل څه نه ښکاري . زموږ په نیولوجیزم کې د شکلي او مانوي ( معنوي) کمزورییو څېړنه او سپړنه د لوی کتاب د لیکلو غوښتنه کوي، چې دا لنډه مقاله یې ځای نه دئ .

عربي« فوج » یا د هغه مفغنه بڼه (پوځ) دېرش کاله دمخه په افغاني پښتو کې باب نه و . یوازې یې په کښته پښتنوکې د اوردو ژبې د فرهنګی نفوذ په وجه له ډېرو وختو راهیسي، په اصلي عربي بڼه ( فوج)یا نیمه عربي، نیمه مفغنه بڼه ( فوځ ) پراخ استعمال لاره ( وېر ۷۳۱) .

د پارسي ژبې په زړو متنوکې د عسکري یا پوځي اډې دپاره د « لشکرګاه » ترکیبي ټکی کار سوی دئ، چې یوه بولګه یې د هیلمند د اوسني اداري مرکز ( لشکرګاه/ لښکرګاه) په تاریخي نامه کې تر اوسه هم ژوندی ده . لشکری بازار/ لښکري بازار، اوردو بازار او اوردوګاه(اردګاه) د همدې مفهوم له پاره ځیني نورې مروجې کلیمې دي .

له تاريخي پلوه، بوست ( بُست) د غزنويانو په لويه امپراطوري کي دوهم لوی ښار ؤ. غزنوي پاچهانو د مجللو او شاندارو سلطنتي ماڼيو په جوړولو سره له بوست څخه د خپل ژمني تفريحي مرکز په توگه کار اخيست . د غزنوي دورې ځينو شاعرانو لکه فرخي سيستاني او عنصري بلخي ددې ښار و د پرتمنيو او با صلابته وادنييو په ستاينه کي، ښايسته شعرونه ويلي دي ( و. گ . د عنصري بلخی او فرخي سيتاني ديوانونه) .

بوست ښار د اسلام د لومړيو فتوحاتو په زمانه کي د لښکرو استوگنځی ( معسکر / لښکرکوټ) يا زموږ په اوسنۍ اصطلاح قرارگاه ؤ، نو ځکه يې د لشکرگاه يا لښکرگاه په نامه بللئ دئ . د لوی استاد - اروابناد علامه حبيبي ( ۱۲۸۹ش/ ۱۹۱۰ع - ۱۳۶۳ ش/ ۱۹۸۴ع) په عقيده د عربانو تر راتگ او د عربي ژبي تر رواجېدو دمخه، په دري ژبه کي د عسکرو د راغونډېدو او استوگني ځای ته « لشکرگاه » ويل کېده. لوی استاد په خپل ستر شهکار « تاريخ افغانستان بعد از اسلام » کي کښلي دي، چي د عربي ژبي « عسکر » کليمه هم د دري ژبي له « لشکر» کليمي څخه معرب سوې ده، نو ځکه تر « عسکر» زړه او لرغوني ده ( حبيبی، <u>تاريخ افغانستان بعد از اسلام</u> ۵۷۴ ؛ وېر ۶۱۳). « لشکرگاه » د هيواد د نامتو مؤرخ - اروابناد استاد علي احمد کهزاد (۱۲۸۲ – ۱۳۶۲ هـ ش) د هغه ارزښتناک علمي- تحقيقي اثر نوم دئ، چي د همدې ښار تاريخي او ادبي پېښي پکښي څېړلي سوي دي .

له بده مرغه د لشکرگاه/ لښکرگاه کليمه اوس، د پارسي او پښتو ژبو په ورځنييو محاورو او مرکوکي، له يوه جغرافيايي نامه پرته، په خپله اصلي مانا نه استعماليږي . د افغاني پارسۍ ( دري) په رسمي او مطبوعاتي ژبه کي د« لشکرگاه » ځای اوس د ايرانيانو بي خونده او نا رسا ترکيبي کليمي( پايگاه) نيولـــئ دئ . پايـگـــاه يـــا يا نـــورو ورتــه(base) (پای + گاه) کليمه لکه څنگه چي ښاغلي معروفي هم يادونه کړې ده، د انگرېزي د بېس اوروپايي کليمو تحت الفظي ترجـمـــه ده؛ او په هيڅ ډول د « لشکرگاه » ښکلا، سادگي، اساني او پوخوالی نه لري .

په پښتو کي د « لشکرگاه/ لښکرگاه » دپاره د « لښکرکوټ » ترکيبي کليمه هم بي خونده او بي مانا نه ښکاري . د ايتيمولوژۍ له پلوه « لښکرکوټ » له دوو بېلو ټکو« لښکر» او « کوټ » څخه جوړ سوی دئ . « لښکر» د پارسي « لشکر» مفغنه بڼه او« کوټ » د کلا(قلعه)، جنگي کلا، لوړه کلا، لو(لويه) کلا يا بالاحصار، ټينگ او مزبوت مورچل په مانا په هندي، پارسي او پښتو کي مشترک ټکی دئ، چي ريښه يې له هندي ژبي سره پيوند لري( پلاټ ۸۵۹) . دا ټکی د پارسي په زړو متنوکي د« کوتوال » په ترکيبي کليمه کي ډېر ليدل کيږي، خو اوس يې ځای د عربي ژبي « قلعه »، « حصار»، « بالاحصار» او د پارسي ژبي « دِژ» کليمي نيولئ دئ . په پښتو کي د« کوټ » ټکی په ډېرو ترکيبي کليمو لکه « برېښناکوټ »، « سلاح کوټ »، « شاولي کوټ »، « نادرشاه کوټ » او داسي نوروکي ژوندی دئ .

په لشکرگاه ( لشکر + گاه) کي لکه څنگه چي گورو د کليمي مانا او مفهوم له ورايه ښکاره دئ؛ کوچنی او لوی، لوستی او نالوستی گرده په پوهېږي؛ هيڅ اضافي تشريح او توضيح ته اړتيا نه لري؛ خو« پايگاه » له بلي تکميلي يا وصفي کليمي پرته قطعاً د لښکرگاه يا لښکرکوټ مانا نه رسيي . په پښتو او انگرېزي کي هم د عسکري قشلي يا لښکرکوټ په مانا د« اډې » يا « بېس » کليمه همدا ستونزه پېښوي . هرومرو يې بايد د مانا د وضاحت او تفسير له پاره يوه بله تکميلي يا وصفي کليمه هم راوړل سي .که څوک بې وصفي کليمي يوازي « اډه » و وايي، د اروېدونکي په ذهن کي سمدلاسه د موټرانو اډه، د بگيو اډه او داسي نور مفاهيم ورگرزي . سربېره پردې نيمگړتيا او نا رسايي، هر صفت هم د اډې عسکري يا نظامي ځانگړتيا نسي په گوته کولای . له همدې کبله، نوی

اډه، زړه اډه، لویه اډه، کوچنی اډه او داسي نور عبارتونه هیڅ یو د اډې د عسکریت خصوصیت نه جوَتوي . په بله وینا، له اډې سره ملګرى صفت باید خامخا د اډې لښکري یا عسکري خصوصیت ته اشاره وکي؛ لکه : عسکري اډه، پوځي اډه، هوايي اډه، استخباراتي اډه، پولیسي اډه او داسي نور، که نه نو د اډې کلیمه به یوازیتوب سره اروېدونکو یا لوستونکو ته د هغې د دقیقي مانا په موندلوکي، لوى سرخوږى پیدا کړي .
لکه څنګه چي مخکي یادونه وسوه، په انګرېزي کي هم د « لښکرګاه، لښکر کوټ یا پوځي اډې په مانا د« بېس » کلیمه د بل وصفي یا تکمیلي ټکي له زیاتولو پرته، د مانا په پوهېدوکي ستونزه او مشکل پېښوي، نوځکه له نورو ماناوو سره د نه التباس په خاطر زیاتره د یوه صفت په زیاتولو سره کارېږي لکه : « میلیټري بېس »، « آرمي بېس »، « نېوي بېس » او داسي نور او یا د هغه پاره نور مترادف او متقارب ټکي استعمالیږي، چي ځیني یې دا دي :

army camp, army camp, instillation, military headquarters, post, barracks, base base,
. station garrison, cantonment,

که د اېتیمولوژى له اړخه وګورو« پایګاه نظامی» له د دوو کاملاً بېلو کلیمو څخه جوړ سوی عبارت دئ، چي اوله کلیمه یاني « پایګاه » یې په خپله هم له « پاى » او « ګاه » څخه جوړه سوې مرکبه کلیمه ده. دا دواړي کلیمې په ګډه یوازي د یوه واحد مفهوم او مانا یاني لښکرګاه یا لښکر کوټ د افادې له پاره استعمالیږي . د « پایګاه نظامی » پر خلاف، « لشکرګاه » داسي ترکیبي کلیمه ده، چي له دوو برخو یاني« لشکر» او« ګاه» څخه جوړه سوې ده . د « لشکرګاه/ لښکرګاه » ټکی پر لنډوالي، سادګی او اسانی سربېره د مانا په لحاظ هم تر« پایګاه نظامی » یا پوځي اډې ښکلی، اسانه او پُر مانا دئ . البته « لشکرګاه » پر دې شکلي او مانوي فضیلت سربېره زموږ د هیواد له تاریخ او ادب سره هم نه شلېدونکی اړیکی لري؛ نو ځکه یې باید د زړښت یا لرغونتوب ښېګنه هم له پامه و نه غورځول سي . دا ټول دلایل د دې ښکارندوى دي، چي د « لشکرګاه/ لښکرګاه » د کلیمو را ژوندى کول ګټور او پرځاى کار دئ .
اما په پښتو کي د عسکري قشلي، عسکري قطعي، قرارګاه، لښکرګاه، لښکر کوټ یا پوځي اډې پر ځاى یو بله کلیمه هم تر اوسه د خلګو په محاورو او مکالمو کي ژوندی ده، چي باید د نورو پخوانیيو ټکو په شان یې له ورکېدو څخه وژغورو . دا د« چونی/ چاونی/ چهاونی / چهاونی/ چونی » کلیمه ده، چي له خورا پخوا زمانو څخه پر هندي ژبه سربېره، په ډېرو نورو هندي الاصله ژبو او پښتوکي هم استعمالیږي . که څه هم نن سبا د افغانستان په رسمیاتو کي د عسکري قشلي، عسکري قرارګاه، عسکري قطعي او ګارنیزیون اصطلاحات ډېرکارېږي؛ خو سره له هغه هم په کندهارکي له عمـــرونو راهیسي د« چونی » کلیمه د خلګو په ورځنیيو محاورو او مکالمو کي ژوندی ده .
زما په قاصر نظر دچونی کلیمه زموږ په پراخه سیمه او پراخو اولسو کي د عمومیت، لنډوالي، سادګی، روانی او روښانه مانایا هغه څه پر بنسټ، چي ژبپوهان او لغتپوهان یې د فصاحت او بلاغت د اصولو په نامه یادوي، تر لښکرګاه، لښکر کوټ اوپوځي اډې هم په زړه پوري برېښي؛ ځکه دا کلیمه هم له یوې خوا زموږ په ژبه کي تاریخي ریښې لري؛ او له بلې خوا تر اوسه د عام اولس په ورځنیيو خبرو کي کارېږي . د لغتپوهني اصول هم دا

حُکم کيي، که يو ټکی د دوو‌جلا ټکو مفهوم افاده کړای سي، بيا نو دوو ټکو ترکيب ته هيڅ حاجت نسته . دغه راز، که له يوې ريښي څخه راوتلي ساده يا بسيطه کليمه د پام وړ مانا په واضح او روښانه بڼه بيان کړای سي، بيا نو له دوو بېلو ريښو يا دوو بېلو ټکو څخه جوړي سوي ترکيبي کليمي ته هيڅ اړتيا نسته . لنډ والی، سادگي، اساني او د مانا بشپړتيا( جامعيت اومانعيت) د نيولوجيزم تر ټولو مهم او اساسي اصل دئ . ما د هري بلي ليکني په څېر په دې ليکنه کي هم د پښتو د لغوي زېرمي د پراخېدو او بډاينې په هيله ټولي کليمي او ترکيبونه کارکړي دي .

### ماخذونه او سرچيني

حبيبی، عبدالحی . تاريخ افغانستان بعد از اسلام. چاپ سوم . تهران : دنيای کتاب، ۱۳۶۷.

--- . تاريخ مختصر افغانستان. کابل : نشر کړدۀ د کتاب چاپولو مؤسسه به همکاری انجمن تاريخ . ۱۳۴۶ .

--- . جنبش مشروطيت در افغانستان . چاپ جديد. قم: کيمسيون فرهنگی حزب وحدت اسلامی افغانستان، ۱۳۷۲ .

ختک، خوشحال خان . د خوشحال خان ختک کُليات. د څېړنوال محمد مؤمن پتوال، څېړنمل محمد عارف غروال او څېړنيار عبدالواجد واجد په اهتمام . کابل : د افغانستان د علومو اکاډمي، د ژبو او ادبياتو انستيتوټ، د ادب او فولکور څانگه، ۱۳۵۸. لومړی ټوک .

شادروان، حسن . اقبال شناسی. تهران : مرکز چاپ و نشر سازمان تبليغات اسلامی، ۱۳۷۱.

عنصری بلخی . ديوان. به کوشش دبير سياقی . چاپ دوم . ايران : ب ن . ۱۳۶۳ .

غبار، مير غلام محمد. افغانستان در مسير تاريخ. چاپ چهارم . ايران : مرکز نشر انقلاب با همکاری جمهوری، ۱۳۶۸.

فرخی سيستانی، ديوان. به کوشش دبير سياقی . ايران : ب . ت .

لاهوری، علامه محمد اقبال . کليات اقبال. به اهتمام داکتر جاويد اقبال . اشاعت ششم . کراچی : شيخ غلام علی ايند سنز پبليشرز، ۱۹۹۰.

( قانون اساسی افغانستان ، ۱۳۸۲) .

هوتک، محمد. پټه خزانه. به تصحيح و تحشيه وتعليق عبدالحی حبيبی . کابل : پښتو ټولنه ، ۱۳۲۳.

Brzezinski, Zbigniew. The Grand Chessboard : American primacy and its geostrategic imperatives. New York: BasicBooks, ۱۹۹۷.

Cooley, J. K. Unholy Wars, ۲nd edition (London: Pluto Press, ۲۰۰۱).

D. I. Feldman et. al. International Law. ed. Prof. G.I. Tunkin. English translation from the Russian edited by Muran Saifulin, Cand. Sc.(Law). Moscow: Progress Publishers, ۱۹۸٦.

Platts, J. T. A dictionary of Urdu, classical Hindi, and English. London: W. H. Allen & Co., ۱۸۸٤.

Tunkin, G.I. Law and Force in the International System. Trans. from the Russian. Moscow: Progress Publishers, ١٩٨٥.

Wehr, Hans. A Dictionary of Modern Written Arabic. Ed. by J. Milton Cowman, ٣rd. ed. Beirut: Librairi du Liban, ١٩٨٠.

## Websites:

http://www.wsws.org/articles/٢٠١١/apr٢٠١١/afgh-a١٩.shtml
http://www.benawa.com/details.php?id=٤١٩٠٩
http://www.surgar.net/-news-pg-Hot-News-١٦٥١.html
http://www.globalresearch.ca/index.php?context=va&aid=٢٤٤٤٤
www.reuters.com/article/idUSTRE٧٠A٣B٦٢٠١١٠١١١
http://www.independent.co.uk/news/world/americas/us-begins-lockerbie-compensation-transfer-
http://en.wikipedia.org/wiki/Pan_Am_Flight_١٠٣
http://www.closethebase.org/
http://people.sabanciuniv.edu/ficici/docs/٢٠٠٧٠٧١٠-Okinawa.pdf
http://www.telegraph.co.uk/news/worldnews/asia/japan/٧٧٩٥٧٣٤/Japanese-PM-Yukio-Hatoyama-resigns-over-broken-Okinawa-base-promise.h
http://www.worldpublicopinion.org/pipa/articles/international_security_bt/٥٧٩.php
http://www.fluglaerm-kl.de/dl/American_bases_in_Germany_fs.pdf
http://www.wsws.org/articles/٢٠٠٣/apr٢٠٠٣/germ-a٠٧.shtml
http://www.nytimes.com/١٩٩١/١٢/٢٨/world/philippines-orders-us-to-leave-strategic-navy-base-at-subic-bay.html
http://en.wikipedia.org/wiki/United_States_withdrawal_from_Saudi_Arabia

http://news.bbc.co.uk/١/hi/world/middle_east/٢٩٨٤٥٤٧.stm
http://www.foxnews.com/politics/٢٠٠٩/٠٢/١٩/official-confirms-using-pakistan-base-launch-attacks/
http://www.timesonline.co.uk/tol/news/world/asia/article٥٧٦٢٣٧١.ece
http://en.wikipedia.org/wiki/Category:Military_coups_in_Turkey
http://www.historyplace.com/worldhistory/genocide/armenians.htm
http://en.wikipedia.org/wiki/Cyprus_dispute
http://www.worldpublicopinion.org/pipa/articles/international_security_bt/٥٧٩.php
http://icasualties.org/oef/
http://costofwar.com/en/
http://www.fas.org/sgp/crs/natsec/RL٣٣١١٠.pdf
http://www.usatoday.com/news/military/٢٠١٠-٠٥-١٢-afghan_N.htm
http://thehill.com/blogs/blog-briefing-room/news/٦٣١٢١-crs-calculates-cost-of-us-troop-presen
http://www.digitaljournal.com/article/٢٨٢٢٣٨
http://en.wikipedia.org/wiki/Economy_of_the_People's_Republic_of_China
http://www.tradingeconomics.com/united-states/gdp-growth
http://www.foreignaffairs.com/articles/٦٧٠٢٦/robert-d-blackwill/plan-b-in-afghanistan
http://www.blogfrommiddleeast.com/?new=٦٩٨٤٨
http://afgazad.com/Siasi/٠٨١٨١٠-Dr-Aziz-Formal-Support-and-Infomral-Subversion[١].pdf
http://afgazad.com/Siasi/٠٤٢٥١١-KM-Ejaaza-ye-Lashkargaah-e-Begaana-Botlaan-e-Afghaniyat%٥B٢%٥D.pdf
http://news.bbc.co.uk/١/hi/٦٩٦٥١١٥.stm
http://articles.latimes.com/٢٠١٠/oct/٠١/world/la-fg-١٠٠١-afghan-opium-٢٠١٠١٠٠١

http://www.globalresearch.ca/index.php?context=va&aid=٢٤٦٩٧
http://www.bloomberg.com/news/٢٠١١-٠٥-١٢/bin-laden-s-death-won-t-end-toll-on-taxpayers.html
http://en.wikipedia.org/wiki/Indo-Pakistani_wars_and_conflicts
http://en.wikipedia.org/wiki/Indo-Pakistani_War_of_١٩٦٥
http://en.wikipedia.org/wiki/Indo-Pakistani_War_of_١٩٧١
http://en.wikipedia.org/wiki/Kargil_War
http://www.spiegel.de/international/world/٠,١٥١٨,٦٧٢٨٢٨,٠٠.html
http://afgazad.com/Tarixi/١٢١٨٠٨-A.A._Kohzad_Shair_Surkh_wa_Pir_Sabz[١].pdf